لیکوال: لایق جان خوستی
۲۰۱۶/۰۳/۳۱

# د علامه محمود طرزي د ۱۵۰ تلین په یاد
## قاهره کښې د افغانستان سفارت دري کتابونه چاپ کړل

محمود طرزی د افغانستان وتلی سیاستوال، ژورنالست او لیکوال و، خدای بښلی د سردار غلام محمد طرزي زوي چي د کندهار د بارکزیو د ټبر سره تړ او لري، د محمود طرزي پلار د امیر عبدالرحمن خان سره د اختلاف درلود او د سردار محمد ایوب خان د پلوی له امله په ۱۸۸۱م کال کښې د هیواد څخه ویستل شو او کراچی ته



کډه شو، ولی هلته یي د انګریز د جنډی لاندی ژوند کول ونه زغمل، د کراچی څخه (بغداد) بیا (استانبول) او وروسته (شام) سوریه ته ولاړ.

محمود طرزي په ۱۷ کلنی کښې د پلار سره په جلا وطنی کښې که د یوه لوري سختی تېري او تجربي هم ترلاسه کړی، د بله پلوه یي د پلار سره په یوځای والي کښې علم او معرفت هم تر لاسه کړ، ځکه چي په اسلامي نړی کښې یي د علماؤ مفکرینو او سیاستوالو سره د نظر تبادله کولو زمینه ورته برابره وه، د دمشق او قسطنطنیي په علمي مرکزونو کي زدکړی وکړی، او په خاصه توګه په ترکیه کښې یي د ځوانانو سیاسي حرکتونه د نږدی څارل، همدا راز محمود طرزی د سید جمال الدین افغاني د فکر او مبارزو څخه متاثره و، او سید سره یي په ۱۸۹۶م کال یعنی دده وفات څخه ځومیاشتي مخکي ورسره کتلي و، او د طرزي په خبره چي اووه میاشتی د سید شاګردی کړی ده.

محمود طرزی په ۱۹۰۳م کال کښې افغانستان ته راستون شو ژورنالیزم، لیکوالي او سیاسي هڅی یي پیل کړی، خو د انګریزانو سره کرکه یي د ورایه په لیکنو، شعرونو، اوخبرو کښې معلومیده، چي ډېر وخت یي دا شعر زمزمه کاوه:

*شهیدان ظلم فرنگیم ما     به خون وطن لاله رنگیم ما*

محمود طرزي هیواد ته د راستنیدلو وروسته په ۱۹۰۶م کال کښې سراج الاخبار د مولوي عبدالرؤوف خاکی قندهاری تر نظر لاندی خپور کړ، ولی د لومړي ګڼی خپریدو څخه وروسته په ټپه ودریدو، ځکه په امیر حبیب الله د انګریزانو فشار راغي چي سراج الاخبار نشر نشي، خو په ۱۹۱۱م کال کښې محمود طرزی یوځل بیا پدی وتوانیدو چي خپله جریده د سراج الاخبار افغانیه په نوم پیل کړي او تر ۱۹۱۸م کال یي نشرات وکړل، سراج الاخبار ډېر شهرت پیدا کړ ځکه چي د طرزي فکر او نظریات، همدا راز تولنیز موضوعات، فرهنګ او د ادب په ډګر کښې په ګران هیواد افغانستان کښې نوښت او بدلون رامنځ ته شول، د میرغلام محمد غبار په وینا چي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

سراج الاخبار د آزادئ غوښتونکو او اصلاح غوښتونکو په مرکز بدل شو، سراج الاخبار په هغه وخت کښي دومره شهرت ترلاسه کړ چي د بریتانوي هند څخه واخله بیا تر تزاری روسیې پوري مستبد حکومتونه د سراج الاخبار څخه په تنګ و، څکه سراج الاخبار په بخارا او ترکستانونو یعنی د روسیي ترکستان او چینایي ترکستان کښي ډېر لوستونکي پیدا کړي وو.
سراج الاخبار د ګران هېواد د بشپړ خپلواکی غوښتنه راپورته کړه او د انګریزانو اشغالګر نفوذ سره یې سخت مخالفت څرګندولو، او همدا راز یې د هغه وخت د حکومت په ځیني کورنیو چارو او موضوعاتو هم نیوکی کولي، د بیلګې په توګه د سراج الاخبار لسمه ګڼه کښي چي کله د (حی علی الفلاح) تر عنوان لاندی کومه مقاله خپره شوه چي د افغانانو د بیدارئ او د اشغالګرو پر ضد یې د خپلواکی غوښتنه کوله امیر ډېر زیات په غوسه شو آن تر دی چي امیر وویل: ((هغه چرګ چي بې وخته آذان کوي سره یې د پریکولو وي)) محمود طرزی نه یوازی د افغانستان د ژورنالیزم پلار بلل کیږي، بلکه د ژورنالیزم په ډګر کښي د نوښت راوستونکي هم بلل کیږي چي د فارسي دري ژبی نثر او شعر کښي نوښت د طرزي په لاس راغلل، او همدار راز یې د سراج الاخبار له لاری اروپایي ادبیات هم خلکو ته معرفي کړل.
په قاهره کښي د افغانستان اسلامي جمهوریت سفارت فرهنګي څانګي د خدای بښلي محمود طرزي د ۱۵۰ تلین د یاد په مناسبت دری کتابونه نشر کړل چي پکي لومړی (کتاب شناسی محمود طرزی) چي ښاغلي صدیق رهپو طرزي لیکلی او پدی کتاب کښي د محمود طرزي ټول هغه چاپ او نا چاپ اثار راټول کړي چي شمیر یې ۳۹ اثارو ته رسیږي چي مونږ ته په میراث را پاتي دي.
دویم کتاب (نقش محمود طرزی در نهضت روشنګری و نوګرایی دهۀ دوم وسوم قرن بیستم) په نوم چه ښاغلي محمد اکرم اندیشمند لیکلی، پدی کتاب کښي ښاغلي محمد اکرم اندیشمند د علامه محمود طرزي ژوند ته د کوچنیولي بیا تر مړیني لیدنه کړی، ټولنیز، سیاسي، ادبي او فرهنګي کړنی یې په کامله توګه څېړلي او راټولي کړې دي.
همدا راز دریم کتاب په عربي ژبه لیکل شوی چي د (محمود طرزی رائد الصحافة الأفغانية وجريدة سراج الأخبار) په نوم مصری دوکتوره آمال حمزه عبدالله چي د «ازهر پوهنتون» د بشری علومو د فارسي څانګی استاذه ده لیکلی، چي دا کتاب په درو فصلو یا برخو ویشل شوی لومړی فصل (ظهور الصحافة في افغانستان) یا په افغانستان کښي د ژورنالیزم څرګندیدل، چي پدی فصل کښي په افغانستان کښي د ژورنالیزم د پیل څخه واخله بیا د مجاهدینو تر کامیابی پوري د ژورنالیزم په هکله رڼه اچول شوی، دویم فصل کښي د علامه محمود طرزي ژوند، فکر او سیاسي کړنو باندی نظر اچولی، او په دریم فصل کښي د سراج الاخبار الأفغانية او ورسره تړلي پیښنو ته کتنه شوی.
نوموړي کتابونه په قاهره کښي د افغان سفیر فضل الرحمن فاضل په نوښت او پاملرنه چاپ شوي چي دریو واړو کتابونو ته یې په دري او عربي ژبو په زړه پوری سریزي هم ښکلی.
همدا راز د یادونی وړ ده چي په قاهره کښي د افغانستان سفارت چي په منځني ختیځ کښي په تاریخي ډول تر ټولو فعال سفارت پاتی شوی چي په سیاسي او کلتوري برخو کښي ډېری لاس ته راوړنی درلودی، یوځل بیا په

کلتوري اړخ کښي داسي هڅې پیل کړي چې په ۲۰میاشتو کښي د ۵۰ زیات کتابونه چاپ ته سپارلي چې په نوي پیر کښي د افغانستان د سیاسي نمایندگیو په کچه بی ساري چاره بلل کیږی.

محمود طرزی په ۱۸۶۵م کال کښي پیدا شوی او په ۲۰۱۵م کال کښي د طرزي د زیږیدنی یوسل او پنځوسم کال پوره کیږی چې پدی مناسبت دری نوموړي کتابونه چاپ شول.

دا هم باید یاده کړم چې د سید جمال الدین افغاني قاهری ته د راتگ د۱۵۰ کلونو پوره کیدلو په مناسبت څو کتابونه چاپ شوي چې په راتلونکي کښي به پری خبری وکړو.

وروستی یادونه: هغه دا چې په قاهره کښي د افغانستان سفارت پر علامه سلجوقي، علامه عبدالحی حبیبي، ملك الشعراء قاري عبدالله خان او استاد خلیلي یو شمیر لیکل شوي کتابونه چاپ کړي چې دا لړی لا هم روانه ده.

تر بیا!